# افغان ورونه

دی خوا او هغه خوا افغانان دی سره ورونه
د یوبڼ سره ګلان دی رنګارنګ ښایسته ګلونه
دغه لوي افغانستان بیا د هغو مشترک کور دي
تاجک ،ازبک ، پښتون ، هزاره ایماق قومونه
ددي خاوری ځلیمیان دهر دښمن سر مات کړي
تاریخونه ټول شاهد دي دی کي نښته هیڅ شکونه
دا خاوره ګورستان دیرغلګرو تعریف شوي
اوس هم چي په کابل کي دګورو دي قبرونه
دری واری انګریزانو دلته سر خپل خوړلي
روسانو ،امریکایانو هم بایللی خپل سرونه
د ښمن چی لا تراوسه نه پوهیږي نادان دي
دی خا وره کي پردی ته د ژوند نشته فرصتونه
ټپی د «ملالی» به هیر نشی له ټولو افغانانو
چي غږ یی په میوند کړه ټینګ افغانی سنګرونه
انګریزبه هیڅکله داکبر، ایوب میړانه هیر نکړي
تاریخ د هغو غیرت یاداشت کړي تاریخونه

(مل) ګوره ویاړ ستا دی چي ته افغا ن یی
هیڅکله به هیرنکړي مل دخپل خلک ِغورځنګونه

------------ **پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»**

**جرمنی {2026-01-16}**